**د اجتماعی بخش او اجتماعی کارمند مربوط سوالونه او ځوابونه**

1- سوال: د کلی انکشافی شورا دندي او مسولیتونه کومي دي ویی لیکی ؟

- ځواب : د کلی انکشافی شوراګاني لاندې دندي او مسولیتونه لري :

- د ګډه ایزو طریقو له لارې، د خپل کلي د ټولنيز- اقتصادي حالت ارزول، او د کلي په اړه د معلوماتو په چمتو کولو کې مرسته کول .
- په غونډو او پراختيايي کړنو کې د ګډون په موخه د تر ټولو بېوزله کورنيو (هغه ښځې چې د خپلو کورنيو مشراني دي، هغه کورنۍ چې د کورنۍ مشر يې معيوب وي او نورې زيان منونکي ډلې) هڅول او د دوی له ګډون او مشورو اخيستلو څخه ډاډ تر لاسه کول.
- د بهرنيو پراختيايي سرچينو د عادلانه، ټول شمول او ګډه ايز تخصيص او کارولو، څارنې او مديريت مسئوليت پر غاړه اخيستل .
- د عامه ځمکو مديريت او د عامه سرچينو ( طبيعي او بنسټيز جوړښت ) ساتنه کول.
- د کلي/ په محلي کچه د خدمتونو د وړاندې کوونکو څارنه ( لکه د نمرې ورکولو کارتونه.(
- د فرعي کميټې څارل او مرسته ورسره کول.
- له بهرنيو مالي وجهو څخه پرته د ځايي کارپوهانو او هڅاندو کسانو او ډلو له لارې د بېوزلو په ګټه د پراختيايي پروګرامونو (نوښتونو) ملاتړ کول.
- د عامه خدمتونو ( لکه زده کړو، روغتيا) او د هغې د غوښتنې په هکله د عامه پوهاوي د کچې لوړول; د کليوالو نظرياتو ته ځواب ويل.
- اړوندو دولتي ادارو ته د شکايتونو او د خدمتونو په وړاندې کولو کې د شته تشو راجع کول
- د دولت له لوري د کلي په مشرۍ د روغتيا ساتنې/حفظ الصحې له هلو ځلو څخه ملاتړ کول او د روغتيا ساتنې له فرعي کميټو او عادي خلکو سره مرسته کول تر څو په آزاده فضا کې له حاجت رفع کولو څخه کلي خالي کړي، فضله مواد په ځانګړندي توګه دفن/ځښ کړي او د روغتيا ساتنې د زده کړې تمرين وشي

په خپلو کليو کې د دولتي او غير دولتي پراختيايي کارکوونکو د امنيت او خونديتوب تامينول.

2- سوال : لاندې انګلیسی اصطلاحات واضح کړی ؟

CCNPP, ANDMA, CC, CDP, CPM, ESS, DCC, CCAP, DO, CDC

**2- ځواب :**

**CCNPP** Citizens' Charter National Priority Program ,

**ANDMA** Afghanistan National Disaster Management Authority,

**CC** Citizens' Charter

(c) ketabton.com: The Digital Library

Community Development Plan(s), **CPM** Community **CDP(s)**
Participatory Monitoring
Environmental and Social Safeguards, **ESS**
Afghanistan's District Coordination Councils, **DCC(s)**
District Office, Citizens' Charter Afghanistan Project, **DO(s) CCAP**
Community Development Council(s) **CDC(s)**

3- سوال : د کلی پروفایل څخه ته وایې تعریف یې کړی؟

**3- ځواب :** دیوې کلی ټول اجتماعی ، اقتصادی ، انکشافي ، سیاسي ، او جغرفیایی دیټا ، ارقام او معلوما د کلی له پروفایل څخه عبارت دی .

4- ګروپي کار څه شی ده ؟

4- ځواب : د یو شمېر افرادو له فعالیت څخه عبارت ده چي په ګډه یا ډله ئیزه توګه په یوې ځانګړې او مشخصي موضوع اجرا کیږي .

5- سوال : مکتوب څه شی ده ؟

5- ځواب: مکتوب هغه رسمي کتبي سند ده چي د یوې اداري لخوا د مطلب د ښودلو په موخه بلي اداري یا مرجع ته په رسمي توګه لېږل کیږي . د مکتوب محتویات له : سریزه /مبدا (شروع او عنوان ښیئ )، اصل متن او مطلب ، پای ، مهر (ټاپه) او لاسلیک

6- فقر تعریف کړی ؟

6- ځواب : فقر : لومړنیو ضروریاتو لکه غذایی مواد ، د اوسیدو ځای ، کالی ، تعلیم او تربیه ته لاسرسی نه لرلو ته فقر وایی البته د خلکو .

7-سوال : د یو انکشافي شورا ته 9000000 نهه میلیونه افغانی په دریو قسطونو کې اجرا کیږي تاسو 25٪ ، 35٪ ، او 60٪ فیصدیو کې معلومه کړی چې هر قسط یې څو افغانی کیږي؟

7- ځواب :

2250000 = 9000000*100/25 3150000 = 9000000*100/35 9000000*100/60 = 5400000

8- سوال : په یو کلی کې چې تاسو کار کوی 25 فامیله سرمایه دار اوسیږي 37 فامیله متوسط خلک اوسیږي او 59 فامیله فقیر او غریب خلکو اوسیږي تاسو د نوموړې کلی د سرمایه دار ، متوسط او غریبو خلکو د فامیلونو فیصدي پیدا کړي ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

8- ځواب :

121=25+37+59 سرمایه دار 25/121 = 20.6% متوسط 37/121 = 30.5% غریب % 59/121 = 48.7

9- سوال : Participation (سهمګیري ) تعریف کړی ؟

9- ځواب : سهمګیري : د یوې پروژې په ټولو مراحلو کې لکه پلان ګذاري ، تصیم ګیري ، فعالیت ، ارزیابی ، نظارت ، حفظ او مراقبت کې د خلکو شاملول یا ونډه ورکولو ته سهمګیري وایي .

10-سوال : یو اجتماعي کارمند د دې لپاره چې په یو منطقه یا کلی کې په کامیابی سره کار وکړي کوم نکات باید په نظر کې ونیسي ؟

10- ځواب :

1- خپله ظاهري بڼه د اجتماع او خلکو سره یو شان کړی یعنی خلک داسی فکر ونکړي چې دا د بل ځای دی .

2- د خلکو کلتو او عنعناتو ته درناوی ولري. 3- د خلکو عقایدو ته درناوی ولري. 4- عام فهمه وي لغت پرانی ونکړي .

5- په اجتماعي کارونو کې لکه ختم ، د جنازې لمونځ او عروسی مراسمو کې د خلکو سره شرکت وکړي.

6- د کلی ټولو خلکو سره یو شان سلوک او ښه رویه وکړي . 7- چا سره تعاصب و نه کړي .

8- خلکو ته و ښایی چې د دوی خدمتګار دی نه آمر . 9- خلکو ته په کارونو کې رهنمایي وکړی .10- دخلکو ترمنځ د دریمګړي په شکل عمل وکړي . 11- خلکو سره په صداقت کار وکړي . 12- دخلکو باور تر لاسه کړای شی . 13- په اجتماع کې اجتماعي کارمند باید حساس اوسی باید د کشت رول ادا کړي .

11- سوال : یو مکمل او ښه راپو کوم مشخصات لري ویې لیکی ؟

11- ځواب : د ښه مکمل راپور مشخصات : 1- د صفحې تفصیل ، 2- فهرست جدول 3- د جدولونو لست 4- معرفی د موضوع 5- تاریخچه 6- مشخص خلاصه 7- عمده موضوعات 8- نتیجه ګیري 9- سپارښتني 10- د موضوعاتو فهرست

12-سوال : په یوه پروژوه کې کوم شیان تفتیش یا نظارت کیږي؟

12- ځواب : په یو پروژه کې لاندې شیان تفتیش یا نظارت کیږي :

د کار کیفیت او کمیت ، دکار جریان او اندازه ، مصارف ، عایدات ، مستفدین ، موثریت او تاتیرات

(c) ketabton.com: The Digital Library

13-سوال : په یو فعالیت یا یو پروژه کې د خلکو دسته جمعی کار یا ګډ کار کول کومې ګټې لري ؟

13- ځواب : په یو فعالیت یا یو پروژه کې د خلکو ګډ کار یا دسته جمعی کار کول لاندې ګټې لري :

1- د اجتماع خلکو د مسولیت احساس کوي 2- خلک د مالکیت احساس کوي . 3- د پروژې موثریت او پایداري لوړ کیږي.

4- د خلکو کاری ظرفیت او مهارتونه لوړیږي . 5- عامه فوایدو د پروژې ته خلک په ښه نظر ګوري . 6- د کلی غریب خلک د صلاحیت صاحب کیږي. 7- د خلکو تر منځ باور زیاتیږي . 8- خلک د موجوده مشکلاتو په وړاندې ډیر ښه فکر کوي .

14- سوال : که چیرې په یوه پروژه کې د خلکو ونډه یا سهم پنځه فیصده وي او د پروژې مجموعی قیمت 1000000 افغانی وي . دخلکو سهم او حکومت سهم پدې پروژه کې محاسبه کړی ؟

14- ځواب :

د خلکو ونډه $\frac{5}{100} \times 1000000 = 50000$ افغانی

100% - 5% = 95% $\frac{95}{100} \times 1000000 = 950000$ افغانی د حکومت ونډه افغانی

15- سوال : یو موسسه غواړي په یوه سیمه کې د کلیوالو خلکو سره مرسته وکړي او په نوموړې سیمه کې پنځه کلی وجود لري چې د هر کلی د فامیلونو تعداد عبارت دی له : A = 50 B= 80 C=75 D=60 E= 10 د فی فامیل سره د مرستې اندازه 52 دالره ده تاسو د ټول کلي مجموعی پیسې په افغانی محاسبه کړی پداسې حال کې چې د یو دالر 77 افغانی تبادله شي؟

15- ځواب :

A+B+C+D+E= 275 Families 275X52= 14300$ , 14300x77= 1101100 AFN

16- سوال : PRA چیست ؟

16- ځواب : پی ار ای د کلیو له اجتماعی ارزیابی د مشترک بررسی څخه عبارت دی ، پی ار ای یو له سیستماتیک او نیمه اموزشی تجارت طریقې څخه عبارت دی چې په ټولنه کې د مسلکی اشخاصو پواسطه ترسره کیږي .

17- سوال : په پروژه کې سهمګیری یا د خلکو ونډه ولې مهم دی ؟

17- ځواب : ، 1- د خلکوظرفیتونو ته انکشاف ورکول ،2- د خلکو تشویق کول چې خلک پخپله په ځان باور پیدا کړي، 3- د خلکو تشویق کول تر څو په یو ټیم کې د یو ګروپ سره کار وکړي ، 4- د خلکو تشویق کول د هغوی مسولیتونو ته ، 5- د خلکو څخه د معلومات اخیستل ، 6- د پالیسیو جوړولو کې د خلکو سره همکاری کول ،

18- سوال : موبایلایزیشن یا بسیج سازی څه ته وایی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

18- ځواب : د خلکو متحد کول او دخلکو ته خوځښت ورکول تر څو انکشافی فعالیتونه په ښه ډول عملي کړی او همدارنگه دسته جمعی او انفرادی کار کول په ټولنه کې پیاوړی شي.

19- سوال : اجتماعی کارمند باید کوم خصوصیات یا توانایي ولري ؟

19- ځواب : اجتماعی کارمند باید لاندې خصوصیات یا توانایي ولري:

- اجتماعی کارمند باید د صداقت او د خدمت کولو مخلصانه او پاک نیت ولري.
- باید افغان وي تر څو د افغانی ټولنې ټول نزاکتونه مراعات کړی او ورسره اشنایی ولري او د خلکو د ضرورت مطابق سیمه کې عمل وکړي او هغه نزاکتونه مراعات کړي.
- د دې لپاره چې اجتماعی کارمند د ټولنې او ادارې تر منځ یوه اړیکه ده نو باید له ټولنې څخه زده کړه وکړي او خپل تجربه زیاته کړي .
- اجتماعي کارمند باید د خلکو له ټولو اعتقادي مسایلو څخه په ټولنه کې خبر ولري او هغه په عملی ډگر کې وښیي.
- اجتماعی کارمند باید یو قوي استدلال ، شفقت ، عدالت او انصاف ولري .
- اجتماعی کارمند باید یو ښه اوریدونکی وي او همدارنگه ښه ویونکی فصاحت او بلاغت ولري.
- اجتماعی کارمند باید خپل ځان د خلکو خادم وگڼي .
- اجتماعی کارمند باید خپل ځان د ټولنې مطابق اماده کړي .
- اجتماعی کارمند باید د خلکو جنجالونو منځ کې د چا طرف ونه کړي او بی طرفی حفظ کړي .
- اجتماعی کارمند باید خپل کار بی غیر له تعصب څخه مخته یوسی ، او همدارنگه باید د انتقاد پذیري او عاجزي روحیه ولري.

20- سوال : مانیتورینگ څه ته وایي ؟

20- ځواب : مانیتورنگه د یوې انکشافی ، تعلیمی ، صنعتی ، تولیدي او نورو پروژو څخه نظارت دی چې د معلوماتو د جمع کول، خبر نیول، لیدل، اوریدلو لپاره مهم کنټل کیږي .

21- سوال : په مانیتورینگ یا نظارت کې باید کوم شیان په نظر کې ونیول شي یعنی څخه باید نظارت شي؟

21- ځواب : 1- د مالی منابعو نظارت ، 2- د پرسونل نظارت، 3- د عملیو او د فعالیتونو د اجراتو نظارت.

22- سوال : ارزیابی څه ته وایي ؟

22- ځواب : ارزیابی یو دوره یی او وقفه یی عملیه ده چې د یوې پروژې د فعالیتونو ارزش او کیفیت د اقتصادی ، اجتماعی او محیط له نظره ارزیابی کوي.

23- ستراتیژي څه ته وایي ؟

23- ځواب : ستراتیژي : هدف ته درسیدلو لپاره د یو طرزالعمل څخه عبارت دی یا د یو محتاط او دقیق طرحه شوی پلان څخه عبارت دی .

24- سوال : جندر څه ته وایي ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نارینه وو او ښځینه وو تر منځ اقتصادی او اجتماعی اړیکو ته جندر وایي ، چې په هغه کې ښځه او نر په تولید ، توزیع او نور اجتماعی مسایلو کې مساوی حق لري، یعنی د ښځې او نر ترمنځ مساوي حقوق په نظر کې نیول بی غیر له جنسیتی او بیولوژیکي ساختمان څخه مطالعه کوي .

25- سوال : پروګرام څه ته وایي؟

25- ځواب : پروګرام یو طرحه شوی پلان دی چې په یو معین وخت کې جوړ شوی وي او څو پروژې پکې شاملې دي .

26- سوال : پروژه څه ته وایي ؟

26- ځواب : پروژه له یو سلسله واحدو او مرتبطو فعالیتونو څخه عبارت دی چې یو مشخص هدف ولري ، معین شروع او ختم وخت ولري او د پروژې له ختمیدو سره د پروژې پرسونل هم ختم کیږي.

27- سوال : Feed back څه ته وایی ؟

27- ځواب : د کار ښه ترسره کولو او اصلاح لپاره د خبر ورکولو ته وایی پداسي حال کې چې په پروژه کې نواقص موجود وي .

28- سوال : فعالیت څه ته وایي ؟

28- ځواب : د یو هدف د ترلاسه کولو لپاره د یو مشخص عمل تر سره کولوته وایي. یو فعالیت باید عملي ، ممکن ، مناسب ، موثر، مفید ، د قبول وړ او انکشافی وي.

29- سوال : Impact څه ته وایي؟

29- ځواب : د یوې پروې اوږدمهاله نتیجه اوتاثیرات څخه عبارت دی چې اخیري نتیجه راپه ګوته کوي.

30- سوال : Effect څه ته وایی ؟

30- ځواب : د یوې پروژې له فوری تاثیراتو څخه عبارت دی .

31- سوال : د کمکونو د انواعو نومونه ولیکی ؟

31- ځواب : وابسته کومکونه ، نیمه وابسته کومکونه ، غیر وابسته کومکونه

32- سوال د دسته جمعی او مشترک تصمیم نیولو فایدې ولیکی ؟

32- ځواب : لکه څرنګه چې الله تعالی په اتحاد او شورا باندې امر کړی او همدارنګه له بله طرفه په تعاون او همکاري باندې امر کړی نو پدې خاطر کله چې دخلکو تعداد د دسته جمعی تصمیم نیولو کې زیاد اوسی مختلف نظرونه منځ ته راځي هر کس د خپل نظر څخه د دلایلو په وړاندې کولو سره دفاع کوي او نور کسان یې منفی نقاط او نتیجې بیانوي بالاخیره له ټولو مختلفو نظرونو څخه یو واحد نظر او تصمیم د خلکو د قبول وړ منځه ته راځي او همدارنګه دسته جمعی او مشترک تصمیم نیول له قوي ملاتړ څخه برخمن وي چې د خلکو قاطعیت ښکاره کوي.

33- سوال : د ولسي تړون ملی پروګرام څو او کوم اساسی خدمات وړاندې کوي ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

33- ځواب : د ولسی تړون ملی پروګرام شپږ ډوله اساسی خدمات وړاندې کوي :

1-اساسی روغتیایی خدمات د روغتیا وزارت پواسطه ، 2- د تعلیم او تربیې اساسی خدمات د معارف وزارت پواسطه ، 3- د اوبو مدیریت ( دسیلابونو کنترول او د څښلو اوبوته لاسرسی ) ،4- قابل د تجدید انرژي یا دبرق رسولو خدمات او 5- د شهرونو وصلول له کلیو سره د کلیوبیارغونې اوپراختیا وزارت پواسطه ، 6- او د کوچنیو زراعتی زیربنا وو ترویج یا جوړول د زراعت وزارت پواسطه .

34- سوال : د ولسی تړون ملی پروګرام دکومو وزارتونو بین الوزارتی پروګرام دی ؟

34- ځواب : د کلیوبیارغونې اوپراختیا وزارت ، د زراعت وزارت ، د عامې روغتیا وزارت ، د معارف وزارت ، د محلی ارګانونو خپلواکه اداره .

35- سوال : د ولسی تړون ملی پروګرام څو برخې لري نومونه یې ولیکی او هره برخه یې د کومې ادارې پواسطه تطبیق کیږي؟

35- ځواب : د ولسی تړون ملی پروګرام دوه برخې لري یو شهري برخه او بله یې کلیوالی برخه ، چې شهری برخه یې د محلی ارګانونو خپلواکې ادارې پواسطه او کلیوالی برخه یې د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت پواسطه پرمخ وړل کیږي.

36- سوال : د ولسی تړون ملی پروګرام په ټول افغانستان کې په څو مرحلو کې تطبیق کیږي.

36- ځواب : په دریو مرحلو کې

37- په ملی دسترخوان پروګرام د کلی غریب خلک داقتصاد له نظر په څو ډولونو ویشل کیږي او کومې طبقې د ملی دسترخوان له مرستو څخه برخمن کیږي؟

37- ځواب : د ملی دسترخوان پروګرام کې د کلی کورنی په څلور ډوله ترتیب کیږي چې عبارت دی غریب کورنی ، ډیر غریب کورنی ، متوسط کورنی او مالداره کورنی . چې غریب ، ډیر غریب او متوسط اقتصاد لرونکی کورنی د ملی دسترخوان له مرستو څخه برخمن کیږي.

38- سوال : د ملی دسترخوان ملی پروګرام د بودیجې تمویل چا پورې اړه لري؟

38- ځواب : د ملی دسترخوان پروګرام بودیجه د نړیوال بانک ورکوي .هغه خلکو ته دغه پروګرام طرحه شوی چې د کرونا وبا څخه متضرره شوي دي.

39- سوال : د ملی دسترخوان پروګرام په یو کلی کې په څو مرحلو کیږي تطبیق کیږي؟

39- ځواب : د ملی دسترخوان پروګرام په یو کلی کې په شپږو مرحلو کې تطبیق کیږي:

1- د کلی خلکو ته دکرونا ویروس او د ملی دسترخوان په اړه عامه پوهاوی ، 2- د انکشافی شوراګانو منسجم کول او د دوی لپاره د بانکي حساب پرانستل ، 3- د کلی معلومات تکمیل کول یعنی فروفایل تکمیلول ، 4- د اړمنو کورنیو لست ترتیبول ، 5- د کلی په سطحه د نظارت ، د تدارکاتو او د توزیع کمیټو جوړول ، 6- د موادو توزیع کول .

(c) ketabton.com: The Digital Library

40- سوال : د کلی پراختیایی شورا څو غړي لري او د ندو عنوانونه یی ولیکی او همدارنګه د کلی پراختیا شورا غړي په کومې طریقی سره ټاکل کیږي.

40- ځواب : د کلی پراختیا شورا ځلور غړي لري : رئیس ، معاون ، منشی او خزندار او د کلی پراختیایی شورا غړي په کلی کې د شفافو ټاکنو پواسطه ټاکل کیږي.

41- د کلیوبیارغونې او پراختیا وزارت سره کوم پروګرامونه کار کوي نومونه یې ولیکی ؟

41- ځواب : د کلیوبیارغونې او پراختیا ریاست سره لاندې پروګرامونه کارکوي :

د ولسی تړون ملي پروګرام ، د کلیوالی لارو جوړولو ملی پروګرام ، کلیو کې د پایداره قابل تجدید انرژي پروګرام ، د اوبه رسوني او روغتیا ساتني ملي پروګرام ، د سیمه ییزو برنامو د هغمړی دفتر پروګرام ، د کلیوالي ښځو د اقتصاد د پیاوړتیا ملي پروګرام ، د ښه ژوند د ودې پروژه د افغان – تاجک په پولو کې.

42- سوال : د ولسي تړون ملی پروګرام لید لوری څه دي ؟

42- ځواب : یو پیاوړی، خوځنده، او پرځان بسیا ملت، چیرې چې ټول وګړي له ښه او سوکاله ژوند څخه خوند واخل

43- سوال : د ولسی تړون ملي پروګرام دنده او موخې څه دي ؟

43- ځواب : دنده:

د وګړو او دولت د ګډې ژمني له لارې د هېواد په کچه د اساسي خدمتونو له وړاندې کولو څخه ډاډ تر لاسه کول.

موخې: د ولسي تړون ملي پروګرام موخې د ښارونو، کلیو اومتحدو سیمو را مینځته کول، د خلکو او دولت ترمنځ اړیکو ته وده ورکول او د اساسي خدمتونو د ټولګې د وړاندې کولو له لارې د بېوزلی د کچې را ټیټول دي. دولت د سرچینو په برابرولوسره، کلیو او ښارونو ته پراختیا ورکوي . د کلي پراختیایي شوراګانې، پراختیایي بهیر رهبري کوي او په ټولو پراختیایي پروګرامونو او کړنو کې د نارینه وو، ښځینه وو، ځوانانو او ماشومانو له ګډون څخه ډاډ تر لاسه کوي. پراختیایي شوراګانې به د پروژو په بیارغونې، بیا جوړونې، پلان کولو اوتطبیقولو کې برخه ولري او د پروژو د تطبیق او د حکومت له لورې د لړتر لړه معیاري خدمتونو د برابرولو د بهیرنه څارنه وکړي .

44- سوال : د ملي دسترخوان پروګرام پواسطه کوم هرې غریبې کورنی ته د څومره افغانیو پواسطه مرستې ورکول کیږي ؟

44- ځواب : د ملي دسترخوان پروګرام پواسطه کوم هرې غریبې کورنی ته د 4000 افغانیو په اندازه مرستې ورکول کیږي.

45- سوال : د ملي دسترخوان پروګرام پروګرام کې غریبې کورنی د چا لخوا معلومیږي او لست کیږي؟

46- ځواب : د ملي دسترخوان پروګرام پروګرام کې غریبې کورنی پواسطه غریبې کورنی د کلی د انکشافی شورا لخوا په کلی کې مشخص کیږي او په لست کې ټاکل کیږي.

47- سوال : د ولسی تړون ملي پروګرام دوران ولیکی ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

47- ځواب : د ولسی تړون پروګرام دوران په لاندې ډول دی :

1. د کلي هڅول، 2. ټاکنې ،3. سرچینې / دبېوزلۍ تحلیل او د اړتیاوو ارزونه، 4. د ټولنې پراختیایي پلانونه او د فرعي پروژې ډیزاین/طرحه ، 5. د ټول شموله سیمه ایزو بنسټونو را مینځ ته کول ،6. د بنسټیزو جوړښتونو پراختیا - فرعي پروژې، 7. څارنه، ارزونه او ټولنیزه پلټنه/تفتیش

48- سوال : د کلیوبیارغونې او پراختیا وزارت مربوط د ولسی تړون ملي پروګرام کوم څو سکتورونو کې خدمات وړاندې کوي نومونه یې ولیکی ؟

48- ځواب : د کلیوبیارغونې او پراختیا وزارت مربوط د ولسی تړون ملي پروګرام څلورو سکتورونو کې په کلیو کې خدمات وړاندې کوي : د آبیاري ، آبرسانی ، انرژي او د ترانسپورت سکتورونه

49- سوال : په ولسی تړون کې د ماتې کوزې تمرین څه ته وایي په اړه یې ومعلومات ولیکی ؟

49- ځواب : د ماتې کوزې تمرین له بېوزلو کورنیو څخه د نارینه وو له یوې ډلې او له ډېرو بېوزلو کورنیو څخه د ښځینه وو له یوې ډلې (هغه کسان چې غواړې خپلې پیسې کنټرول کړي ) سره تر سره کېږي. په دې توګه کله چې د کلي د پراختیایي پلان جوړول تر سره کېږي خلک هغه باید هغه لګښتونه چې د دوی د بېوزلۍ لامل کېږي (لکه: د ودونو او جنازو لګښتونه، د پورونو سود، له وخت څخه د مخه مزد، روغتیایي لګښتونه) په پام کې ونیسي او په ګډه فکر وکړي چې په څه ډول د دې لګښتونو کچه را ټیټه کړي.

50- سوال : شخړه تعریف کړی ؟

50- ځواب : شخړې کلیمه اصلا د لاتیني کلیمې څخه اخیستل شوي چې د ټکر یا نښتې په معنی دی .

کله چې د دوو یا څو خواوو ترمنځ د غوښتنو تفاوت یا فرق منځته راشی نو شخړه یا مخالفت منځ ته راځي.

51- سوال : د شخړې دحل کولو درې مرحلې ولیکی ؟

51- ځواب : د مخالف جهت د نظریاتو ، اهداف او غوښتنو پلټنه ، د خپلو اهدافو ، غوښتنو او نظریو وړاند کول ، د یوې عمومي حل لارې موندل

52- سوال : د شخړې په هوارولو کې عامې غلطی کومې دي ؟

52- ځواب : د مخاطب د خبرو اصلي ټکو څخه صرف نظر کول ، یو پر بل باندې د نیوکو او پړو اچول ، د تندی لهجو او غلطو او الفاظو کارول ، یو د بل په خبرو کښې بی ځایه مداخله او یو بل خبرو ته نه پریښودل ، په موضوع کې دغیر ارتباطي یا غیر ضروري خلکو داخلول .

53- سوال : د شخړو بنیاد او اساس څه دي ؟

53- ځواب : د شخړو بنیاد یا اساس دوه ډوله دي : رواجي : د دوو خواوو اهدافو ته د رسیدو په منظور د فعالیتونو نظریاتو او یا عقایدو د تفاوت په وجه د شخړو رامنځته کیدل ، چې دا ډول شخړې اکثرا د خوی ، عاداتو ، اخلاقو رواجونو ، رویو او نورو په وجه رامنځته کیږي .

بل هدف یامقصدي : د دوو خواوو تر منځ د غوښتنو په سر د شخړو رامنځته کیدل چې دا ډول شخړې د منابعو ، پروګرامونو ، مقام / چوکي ، حقوقو ، ارزښتونو او نورو په وجه رامنځته کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

54- سوال : جلسه څه شی ده ؟

54- ځواب : جلسه له يو ډول راټولېدني څخه عبارت ده چي په بيل بېلو ادارو کي د بيل بېلو مقاصدو (د چارو د انسجام ځرنګوالی ، اهدافو ته د رسېدو الري ، په نظر وړ مسايلو بحث ، د تصاميمو نيول او نور مسايل .) لپاره ترسره کېږي .

55- سوال : اجنډا څه شی ده ؟

55- ځواب : د يوې جلسي د ټولو بحث وړ اهدافو او موضوعاتو له مخکنۍ طرحي څخه عبارت ده ، چي د جلسي کاري پروسه د هغې مطابق مرحله په مرحله مخکي ځي .

56- سوال : د اجنډا اساسي ټکي څه شی دي ؟

56- ځواب : د بحث وړ مسايلو ټاکل تصميم نيونه( ، د اجنډا لېږل )۷۲ ساعته مخکي ، مشخصه نمونه ، د ټولو ګډون والو لپاره اجنډا او د معلومو او نامعلومو مسايلو تفکيک ده .

57- سوال : مجلس څه شی ده ؟

57- ځواب : د يو ګروپ وګړو ترمنځ له مباحثې څخه عبارت ده چي غواړي يو له بل سره نظريات تبادله کړي او تصميم ونيسي . يو ښه مجلس يوه بريالۍ مفاهمه ده .

58- سوال : تصميم ګيري (تصميم نيونه) څه شی ده ؟

58- ځواب : هغه جريان تشريح کوي چي د هغه له طريقه د معيني مسالي حل الره ټاکل کېږي . ۱ – عادي تصميم ګيري ، ۲ – عاجله تصميم ګيري ، ۳ – بحث طلبه تصميم ګيري

59- سوال : د تصميم ګيري د مراحلو نومونه واخلئ ؟

59- ځواب : د مشکل تعريف او تشخيص ، ۲– د مشکل د حل الرو لټول ، ۳– د ښې حل الري ارزيابي او انتخاب ، ۴– د تصميم اجرا

60- سوال : رهنمود څه شی ده ؟

60- ځواب : د کار د يوې ټکلي برخي د اجرا اصول دي چي د اړونده ذيصلح چارواکو د منظوري وروسته د هغې ادارې پرسونل ته ورکول کېږي او د هغه د اجرا وخت معين نه وي .

61- سوال : ورکشاپ څه شی ده واضح يې کړئ ؟

61- ځواب : په يوه ناسته کي په يوه موضوع علمي او عملي مباحثه دورې ته ويل کېږي چي يوه ډله اشخاص خپلي تجربې پخپل منځ کي سره مطرح کوي او دا مباحثه څو ورځي دوام مومي او هر يو ګډون وال له مخکي ليکل شوي مواد په مجلس کي وړاندي کوي .

62- سوال : ترنينګ څه شی ده واضح يې کړئ ؟

62- ځواب : تيوريکي او ميتوديکي معلوماتو او مهارتونو ترلاسه کولو ته لاس رسی ده چي په عملي او نظري بڼه د ظرفيت د لوړولو په موخه په لنډ وخت کي دايرېږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

63- سوال : د ملی دسترخوان پروګرام څخه د یو کلی څو فیصده کورنی مستفید کیږي؟

63- ځواب : دملی دسترخوان پروګرام کې د یو کلی تر 90 فیصده کورنی مستفید کیدلای شي .

64- سوال : که چیری د یو کلی د کورنیو تعداد 70 وي نوموړې کلی کې څومره کورنی د ملی دسترخوان مرستې تر لاسه کولای شي ؟

64- ځواب : لکه څرنګه چې په یو کلی کې 90 فیصده کورنی د ملي دسترخوان مرستو څخه استفاده کولای شي نو په لاندې ډول محاسبه ورته کولای شو.

90/100 x 70 = 63 63 کورنی

**د مخففاتو لړلیک**

| | | | |
|---|---|---|---|
| CC | ولسي تړون | - CCDC | د کلي پراختیایي شوراګانو کلستر |
| CCDMC | د ولسوالی په کچه د ولسي تړون پروګرام د مدیریت کمیټه | - CDC | د کلي پراختیایي شورا |
| CDP | د کلي پراختیایي پلان | - CLTS | د خلکو په مشرۍ د بشپړې روغتیا ساتن |
| DCC | د ولسوالی د همغږۍ شورا | - DG | ولسوالی FP همکاره مؤسسه |
| GA | د ګذر شورا | - GO | دولت (حکومت) -- IDLG د سیمه ایزو ارګانونو خپلواکه اداره |
| MAIL | د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت | | |
| MRRD | د کلیو د بیا رغونې او پرختیا وزارت | | |
| MSS | د لږ تر لږه خدمتونو معیارونه | | |
| NGO | نا دولتي اداري | | |
| SO | ټولنیز کارکوونکی | | |
| PG | والي | | |

LIST OF ACRONYMS/ ABBREVIATIONS USED

| | |
|---|---|
| ANDMA | Afghanistan National Disaster Management Authority |
| ARTF | Afghanistan Reconstruction Trust Fund |
| CC | Citizens' Charter |
| CCAP | Citizens' Charter Afghanistan Project |
| CCNPP | Citizens' Charter National Priority Program |
| CCDC(s) | Cluster Community Development Council(s) |
| CDC(s) | Community Development Council(s) |
| CDD | CCAP's Capacity Development Department |
| CDP(s) | Community Development Plan(s) |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | |
|---|---|
| CGC | Community Grievance Committee for CCAP |
| CCGC | Cluster/Guzar Grievance Committee for CCAP |
| CGGC | Central Government Grievance Committee for CCAP |
| CFHF | Community Financial History Form |
| CLDD | MRRD Community Led Development Department |
| CPM | Community Participatory Monitoring |
| CPR | Common Property Resource |
| CRPA | Community Resources and Poverty Analysis |
| DAB | Da Afghanistan Bank (Central Bank of Afghanistan) |
| DCC(s) | Afghanistan's District Coordination Councils |
| DCCMC | District Citizens' Charter Management Committee |
| DGGC | District Government Grievance Committee for CCAP |
| DDA(s) | Afghanistan's District Development Assemblies |
| DO(s) | District Office |
| DP | Disaster Preparedness |
| DRR | Disaster Risk Reduction |
| DRM | Disaster Risk Management |
| ESMF | Environmental and Social Safeguards Monitoring Framework |
| ESS | Environmental and Social Safeguards |
| FD | CCAP's Finance Department |
| FP(s) | CCAP's Facilitating Partner(s) |
| FPMD | CCAP's FP Management Department |
| FY | Afghan Government's Fiscal Year |
| GA | Gozar Assembly |
| GD | MRRD's General Directorate for the CC |
| GHM | Grievance Handling Mechanisms |
| HQ | Headquarters |
| IDA | International Development Association of the World Bank Group |
| IDLG | Afghanistan's Independent Directorate of Local Governance |
| IDP(s) | Internally Displaced Person(s) |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | |
|---|---|
| IM | Implementation Monitoring |
| IMI | CDC Institutional Maturity Index |
| MAIL | Afghanistan’s Ministry of Agriculture, Irrigation and Livestock |
| MCCMC | Municipal Citizens’ Charter Management Committee |
| M&ED | CCAP’s Monitoring and Evaluation Department |
| MISD | CCAP’s Management Information Systems Department |
| MoE | Afghanistan’s Ministry of Education |
| MoF | Afghanistan’s Ministry of Finance |
| MoPH | Afghanistan’s Ministry of Public Health |
| MoEW | Ministry of Water and Energy |
| MRRD | Afghanistan’s Ministry of Rural Rehabilitation and Development |
| MSS | CCNPP’s/ CCAP’s Minimum Service Standards for Phase One |
| NGO(s) | Non-Governmental Organization(s) |
| OM | CCAP’s Operational Manual |
| PCCMC | Provincial Citizens’ Charter Management Committee |
| PCE | Participatory Community Empowerment |
| PD | CCAP’s Procurement Department |
| PDO(s) | Project Development Objective(s) |
| PGGC | Provincial Government Grievance Committee for CCAP |
| PIU | IDLG’s Project Implementation Unit for CCAP |
| PMU(s) | CCAP’s Provincial Management Unit(s) |
| RASS | Rural Areas Service Standard Grants |
| RCU(s) | CCAP’s Regional Coordination Unit(s) |
| RF | CCAP’s Result Framework |
| SFSR | Sub-Project Final Status Report |
| SSS | Single/Sole Source Selection |
| SY | Afghan Calendar/ Solar Year |
| ToT(s) | Training of Trainer(s) |
| UABG | Urban Areas Block Grants |
| UN | United Nations |
| WB | World Bank |

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**